مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۰۴/۰۳

بغاوتي نڅا

خپل دا شعر هغې ځواني افغان مېرمنې ته ډالۍ کوم چې د ایراني کوردۍ مهسا امیني د وژنې په پروتست او له هغې سره د پیوستون په غرض یې د کابل د یوه کور پر بام باندې یوه لیونۍ بغاوتي نڅا کړېده، خو په ایران کې هر افغان ته د «آشغال» خطاب کېږي.

(آصف بهاند)

ته ګډېږه، ښه تاوېږه

ازادۍ ته هوسېږه

وهه څرخ، بیا راتاوېږه

کوم مظلوم ته ښه ګډېږه

سر دې لوڅ کړه، پښې هم لوڅې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سل ځل تندر شه، رالوېږه

ستا لمن چې ګرده تاو شي

ته ډېوه يې رڼا کېږه

د ملا تير چې تاووې ته

کوم اخوند ته تندر کېږه

په هرڅرخ دې چې پښې لګي

روڼ څراغ شه رڼا کېږه

تـه ياغي يې، بغاوت کړه

و مظلوم ته سخاوت کړه

پوندې ووهه پر مځکه

ته سپوږمۍ يې، مهسا کېږه

۲۰۲۲/۱۰/۰۱
هېدر سليف
ډنمارک

دا د ځواني افغان مېرمنې د يادې ګډا لينک دی:

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-63099793

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ